

هفته واره رساله

(د امیر اهلسُنَّت بیان)

# د رمضان عبادتونه به څنګه قبليږي؟

شيخ طريقت، امير اهل سنت، باني دعوت اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# د رمضان عبادتونه به څنګه قبلیږي؟ [1]

دُعائے عطّار: یا رَبِّ کریمه! څوک چې دا رساله " د رمضان عبادتونه به څنګه قبلیږي؟ " ولولي یا واوري هغه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د میاشتې د برکتونو او عبادتونو د خوندونو نه مالا مال کړې او هغه د مور او پلار او سره د خاندانه بے حسابه اوبخښې- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د قیامت پهٔ ورځ به د الله پاک د عرش د سورې نه علاوه بل هیڅ یو سورے نهٔ وي، درې قِسمه خلق به پهٔ هُغه ورځ د الله پاک د عرش پهٔ سورې کښې وي- ﴿1﴾ هُغه کَس کوم چې زما د اُمتي پریشاني لرې کړي ﴿2﴾ څوک چې زما سُنَّت ژوندے کړي او ﴿3﴾ څوک چې پهٔ ما باندې پهٔ کثرت سره دُرُود شریف لولي- (البدور السافرة للسیوطی، ص 131، حدیث: 366)

وه سلامت رہا قیامت میں     پڑھ لیے جس نے دل سے چار سلام

---

[1] .... د امیر اهلِ سنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه پهٔ 8 شوال شریف کال 1441 هجری د مدني مذاکرې نه مخکښې شوے د سُنّتو ډک بیان-

میرے پیارے پہ میرے آقا پر میری جانب سے لاکھ بار سلام

میری بگڑی بنانے والے پر بھیج اے میرے کِردگار سلام

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! یو څو ورځې مخکښې خبره ده چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د میاشتې د راتلو یو د سرور نه ډک شور رااوچت شو خو آه! ډیر زر د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د رحمتونو نه ډکې، ښکلې میاشتې تشریف یوړلو، الله پاک دې زمونږ د دې مبارکې میاشتې حقیقي محبت نصیب کړي او په دې مبارکه میاشت کښې چې مونږ کوم مات ګوډ عبادتونه اوکړل هغه دې په خپل رحمت سره قبول کړي او په عبادتونو کښې شوې بے خیالۍ دې معاف کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## آه! په لړزولو سره روژه لاړه

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د برکتونو به هم څهٔ وایو! د دې مبارکې میاشتې د راتلو نه مخکښې په کورونو کښې تیاریانې شروع شي، د دې مبارکې میاشتې خپله بیله مزه او خوند وي کوم چې په نورو ورځو کښې نهٔ وي، ځنګه چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک میاشت ولیدلے شي نو په زړهٔ باندې عجیبه حالت راشي د کوم له وجهې چې اِنسان هُم پخپله د

عبادت طرف ته مائله شي او جومات ته تلل شروع کړي او بيا چې هُم څنګه د اختر مياشت وليدلے شي نو د رَمَضَانُ المُبَارَک د عاشق زړهٔ پهٔ غم کښې ډوب شي، جوماتونه خالي شي، د دِين درد لرونکي د جوماتونو شاړ کيدل زوروي، ګويا د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ تللو باندې فضاګانې او هواګانې هم غمژنې کيږي- دا د هر چا خپل Feelings يعنې جذبات وي، څوک زيات غمژن وي نو چا له قرار نهٔ ورځي لکه څنګه چې يو نزدې خپل وفات شي نو قرار نهٔ راځي، هم داسې جذبات د ځينو خوش قِسمتو د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ رخصتيدو هم وي چې هیِ افسوس! رَمَضَانُ المُبَارَک ډيره د برکت او ډيره د عظمت او شان والا مياشت زمونږ نه رخصت شوه، هٰغه هر څهٔ رخصت شول کوم چې د رمضان پهٔ وجه زمونږ نصيب شوي وو-

مسرّت سے سینہ مدینہ بنا تھا
مزہ خوب رَمضان میں آرہا تھا

پڑے رَنج و غم کا اندھیرا ہوا تھا
مزہ خوب رمضان میں آرہا تھا

خبر جب کہ رَمضاں کی آمد کی آئی
تو مرجھائے دل کی کَلی مُسکرائی

کیا اَبرِ کرم نور برسا رہا تھا
مزہ خوب رَمضان میں آرہا تھا

نظر چاند رَمضاں کا جس وقت آیا
ہُوا رحمتوں کا زمانے پہ سایہ

اُفق پر بھی اَبرِ کرم چھا گیا تھا
مزہ خوب رَمضان میں آرہا تھا

ترانے خوشی کے فضا گُنگناتی
ہَوا بھی مسرت کے نغمے سناتی

جِدھر دیکھئے مرحبا مرحبا تھا
مزہ خوب رَمضان میں آرہا تھا

مجھے ماہِ رَمضاں کا غم دے الٰہی
مِٹا حُبِّ دنیا کی دل سے سیاہی

مزہ فانی سنسار میں کیا رکھا تھا
مزہ خوب رَمضان میں آرہا تھا

(وسائل بخشش، ص621)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د رَمَضَانُ المُبَارَک د یاد نا اشنا انداز

مخکښینو خلقو به رَمَضَانُ المُبَارَک داسې یاد ساتلو چې د رمضان شریف نه شپږ میاشتې مخکښې به یې د الله پاک نه د رمضان شریف د موندلو دعاګانې غوښتلې او بیا به یې د رمضان شریف د تشریف وړلو نه پس د شپږو میاشتو پورې پهٔ دې مبارکه میاشت کښې د کړو عبادتونو د قبلیدو دعاګانې کولې- (لطائف المعارف، ص240)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! مونږ هم ټول کال د رَمَضَانُ المُبَارَک اِنتظار کوو بلکې څینې خوش قِسمته خو ټول کال دا دعا کوي چې ”اَللّٰھُمَّ بَلِّغْنَا رَمَضَانَ بِصِحَّةٍ وَّعَافِیَةٍ یعنې اے الله پاکه! مونږ د صحت او عافیت سره رمضان ته ورسوې-“

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## د رَمَضَانُ المُبَارَک سره د امیرِ اهلِسُنَّت د محبت اِظهار

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا په ما باندې د الله پاک نعمت، د الله پاک رحمت او د الله پاک کرم دے چې زما د نن نه نۀ بلکې د ماشومتوب نه د رمضان شریف سره مینه ده، د کله نه چې په ښه بد پوهه شوے یم روژه زما خوښه ده- په خُدائے مې دې قَسم وي چې رمضان د رحمت دریاب دے، ما اِنتظار کولو چې رمضان راشي، (کله چې رمضان راغلو نو) اوس زۀ د رحمت په دریاب کښې راغلم- اَلْحَمْدُلِلّٰه! په وجود کښې مې ساه راغله-

(مدنی مذاکرہ، پہلی رمضان المبارک 1446 ہجری مطابق 2 مارچ 2025)

جب بھی آتا ہے رمضان جان میں آجاتی ہے جان

خوب ہے رمضاں کی بھی شان اس میں اُترا ہے قراٰن

## د رَمَضَانُ المُبَارَک د یادساتلو مختلفې طریقې

اے کاش چې الله پاک زمونږ د رمضان غم نصیب کړي، داسې کرم وشي چې مونږ هم ټول کال رَمَضَانُ المُبَارَک یاد وساتو- د دې مختلفې طریقې کیدے شي مثلاً د ځان سره یوه خاص ډائري وساتئ چې په کښې د رَمَضَانُ المُبَارَک د راتللو تاریخ او د رَمَضَانُ المُبَارَک د رخصتیدو تاریخ لیکلے کیدے شي، هم داسې په هغه ډائرۍ کښې خپل هغه اوراد او وظیفې هم لیکئ کومې چې تاسو په رمضان شریف کښې کوئ او بیا وروستو هغه

ډائري لولئ او د رَمَضَانُ المُبَارَک یاد پرې تازه کوئ، څکه چې د رَمَضَانُ المُبَارَک څۀ نا څۀ یاد خو پکار دے، زما د کُڅ لاس پۀ منګول باندې د زخم یوه نخښه ده کومه چې زۀ بعضې وخت بشکلووم هم، څکه چې دا زخم ما پۀ کال 2015 رَمَضَانُ المُبَارَک کښې خوړلے وو- د رَمَضَانُ المُبَارَک د یاد د ډېر وخته پورې د ساتلو د پاره زما تجربه ده چې د دې مبارکې میاشتې د رخصتېدو نه پس چې څومره هم کیدے شي اِنسان دې خپله څُله بنده ساتي دې ته دې د خاموشۍ تالا ولګوي او د رَمَضَانُ المُبَارَک فضیلت دې پۀ ذِهن کښې یاد ساتي او چرته چې د خبرو کولو ضرورت وي صرف هُم هلته دې خبرې کوي، د داسې کولو سره به پۀ ورو ورو د رَمَضَانُ المُبَارَک پۀ یاد کښې ژړېدل هم نصیب شي- اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! [1]

---

[1] .... د رمضانُ الکریم یاد پۀ زړۀ کښې د زیاتولو د پاره د شعبه هفته وار رسائل د طرف نه د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې لیکلے شوي ډېر لیکل د رسالو پۀ شکل کښې " یادِ رمضان قسط: 1، 2 او 3 پۀ نوم باندې پیش کړے شوي دي، د دې د لوستلو د پاره دا QR کوډز سکین کړئ-

یادِ رمضان قسط:1

یادِ رمضان قسط:2

یادِ رمضان قسط:3

## خلیفۀ امیرِ اهلِسُنَّت او د رَمَضَانُ المُبَارَک یاد

یو ځل زما ځوي (یعنې خلیفۀ امیرِ اهلسُنَّت الحاج عبید رضا عطاري مدني مدظله العالي) ووئیل چې زما عادت دے او پۀ دې کال هم (د رمضان المُبارک د یاد د پاره) د شعبان شریف اخری ورځ د نمر د پریوتو وخت ما پۀ خپله ګړۍ کښې د " اَلارم پۀ طور ولګولو- روزانه چې کله هغه غږیږي نو ما ته رَمَضَانُ المُبَارَک رایادوي، دغه شان چې کله د صبحِ بهاران [یعنې د 12 ربیع الاول شریف د سحر] وخت راځي نو هم زۀ داسې کووم-

## د نفلي روژو تحریک

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د رَمَضَانُ المُبَارَک د یاد باقي ساتلو د پاره د دعوتِ اِسلامي د مجلسِ اِصلاحِ اعمال د طرف نه د نفلي روژو تحریک هم جاري دے، د دې درې شکلونه (Categories) دي: ﴿1﴾ " اَیّامِ مَنْهِیَّه (یعنې وړوکے اختر، لوئي اختر، د دې سره سره د 11، 12، او 13 ذِی الْحج) نه علاوه د ټول کال روژې نیول-" ﴿2﴾ " صَوْمِ داؤدي یعنې یوه ورځ پریښودل او بله ورځ روژه نیول یا د خپلې اسانۍ پۀ لحاظ سره پۀ میاشت کښې 15 ورځې روژې نیول "، خو د صَوْمِ داؤدي والا فضیلت به هله میلاؤیږي چې کله یوه ورځ پریښودے شي او بله ورځ روژه ونیولے شي- د صومِ داؤدي پۀ باره کښې د الله پاک

اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د الله پاک په نزد د ټولو نه خوښه روژه د حضرت داؤد عَلَيۡهِ السَّلَام روژه ده (چې هغوئي به يوه ورځ روژه نيوله او بله ورځ به يې نۀ نيوله)- " (بخاری، 1/385ـ 3/417، حديث:1131ـ 5052) او

﴿3﴾ " پۀ هفته کښې کم از کم يوه روژه نيول-" بهر حال د ګُل شريف روژه خو ټولو له نيول پکار ده ولې چې دا خو سُنَّت دې، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر ګل شريف د ورځې روژه نيوله، د دې د وجهې پوښتنه چې ترينه اوکړے شوه نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: زۀ پۀ دې ورځ پيدا شوے يم- (مسلم، ص 455، حديث: 2747) دغه شان د زيارت د ورځې روژه هم سُنَّت ده- د الله پاک خوږ اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ګل او د زيارت د ورځې روژه خوښوله، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د ګل او د زيارت پۀ ورځ اعمال (د الله پاک پۀ دربار کښې) پيش کيږي، زما دا خوښه ده چې کله زما عمل پيش شي نو هغه وخت زما روژه وي- (ترمذی، 2/186، 187، حديث:745، 747)

ټول عاشقانِ رسول له پکار دي چې د رَمَضَانُ المُبَارَک د ياد باقي ساتلو د پاره د نفلي روژو عادت جوړ کړي- که الله پاک وغوښتل نو د دې نه

به نورو اِسلامي ورونړو او اِسلامي خوئيندو ته هم ترغيب ميلاؤ شي-

اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

| | | |
|---|---|---|
| نظر چاندِ رمضاں کا جس وقت آیا | | ہوا رحمتوں کا زمانے پہ سایہ |
| افق پر بھی ابرِ کرم چھا گیا تھا | | مزہ خوب رمضان میں آ رہا تھا |
| مجھے ماہِ رَمضاں کا غم دے الٰہی | | مِٹا حُبِّ دنیا کی دل سے سیاہی |
| مزہ فانی سَنسار میں کیا رکھا تھا | | مزہ خوب رَمضان میں آ رہا تھا |
| | | (وسائلِ بخشش، ص 627) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه پس هم عبادتونه جاري وساتئ

اے د رمضان المُبارک عاشقانو! ستاسو دې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې نيول، تراويح کول، د قرآنِ کريم تِلاوت کول، ډير ډير مبارک شي، اللّٰه پاک دې دغه عبادتونه ستاسو او ستاسو په برکت زما د بے حسابه بخښني ذريعه جوړه کړي- ياد ساتئ چې د کوم عظيم خُدائے چې تاسو د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په مياشت کښې عبادت کړے دے هم هغه رحيم او کريم خُدائے د ټولو مياشتو خالق (يعني پيدا کولو والا) دے، اے کاش چې مونږ خپل عبادتونه

صرف د روژې د میاشتې پورې د محدود ساتلو په ځائے ټول کال بلکې ټول ژوند د الله پاک او د هغۀ د اخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تابعدارۍ کښې د تیرولو سعادت حاصل کړو۔

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د روژو د قبلیدو علامت

د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د روژو نه پس د (نفلي) روژو عادت جوړول د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د روژو د قبولیت نخښه ده۔ ځکه چې الله پاک د کوم اِنسان نیک عمل قبول کړي نو هغۀ ته د هُغې نیکۍ نه پس د (نورو) نیک کارونو کولو توفیق عطا کوي لکه څنګه چې بعضې بزرګانو فرمائیلي دي: د نیکۍ ثواب د هُغه نیکۍ نه پس بیا نیکي (کول) دي، لهٰذا چې څوک نیک کار اوکړي او د هغې نه پس بیا نیکي اوکړي نو دویمه نیکي د وړومبۍ نیکۍ د قبلیدو علامت دے، لکه څنګه چې چا نیک کار اوکړو او د هغې نه پس یې بیا بد کار اوکړو نو دا بد کار د هُغه نیک کار د رد او د هغې د نۀ قبلیدو علامت دے۔ (لطائف المعارف، ص253)

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نه پس روژې

حضرت اِمام شَعبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د رمضان نه پس یوه روژه نیول زما د ټول عمر د روژو نیولو نه ډیره خوښه ده۔ (لطائف المعارف، ص251) اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ډیر

عاشقانِ رسول د رَمَضَانُ المُبَارَک د تيريدو نه پس پهٔ شَوَّال شريف کښې هم روژې نيسي، د شَوَّال شريف روژې هم ځومره ښکلې دي! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې فرامين وړاندې کولے شي:

﴿1﴾ ”چا چې د رمضان روژې ونيولې بيا يې شپږ ورځې پهٔ شوال کښې ونيولې نو د خپلو ګناهونو نه به داسې ووځي لکه څنګه چې پهٔ هغه ورځ وو پهٔ کومه ورځ چې د هغهٔ مور هغه زيږولے وو-“ (مجمع الزوائد، 425/3، حديث:5102)

﴿2﴾ ”چا چې د رمضان روژې ونيولې، بيا يې د هغې نه پس پهٔ شوال کښې شپږ (6) روژې ونيولې، نو داسې ده لکه چې د دَهر (يعني د ټول عمر ) روژه يې چې ونيوله-“ (مسلم، ص456، حديث: 1164)

﴿3﴾ ”چا چې د وړوکي اختر نه پس (پهٔ شوال کښې) شپږ روژې ونيولې نو هغهٔ د ټول کال روژې ونيولې چې څوک يوه نيکي راوړي هغه ته به 10 ميلاؤيږي- نو د رمضان پهٔ مياشت کښې روژې نيول د لسو مياشتو برابر او د دې شپږو ورځو د روژو (د نيولو ثواب) د 2 مياشتو برابر نو دا د ټول کال روژې شوې-“ (سنن کبریٰ للنسائی، 162،163/2، حديث:2860،2861 ملخصاً)

بهتره دا ده چې دا روژې متفرق يعني بيلې بيلې ونيولے شي لکه يوه ورځ پريښودے شي او بله ورځ ونيولے شي يا پهٔ ټوله مياشت کښې څنګه اساني وي او که د اختر نه

پس یـې پرله پسې شپږ ورځې روژې ونیولې نو بیا پکښې هم څۀ باک نشته- بس صرف د اختر پۀ ورځ یعنې د شوال پۀ وړومبې تاریخ روژه نشې نیولے-

## بهترینه نیکي او بد ترینه ګناه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! هُغه نیکي خومره ښه ده کومه چې پۀ ګناه کښې د اخته کیدو نه پس اوکړے شي ځکه چې هغه نیکي به دا ګناه ختمه کړي او د دې نه بهتره هُغه نیکي ده کومه چې د یوې نیکۍ نه پس اوکړے شي او هُغه ګناه خومره بده ده کومه چې د یوې نیکۍ نه پس اوکړے شي ولې چې دغه به هُغه نیکي ختموي- یاد ساتئ چې د توبې نه پس یوه ګناه کول د توبې کولو نه مخکښې د 70 ګناهونو نه زیاته بده ده- د اللّٰه پاک نه د مرګه پورې پۀ نیکۍ باندې د ثابت قدم پاتې کیدو سوال کوئ او د هغۀ نه د زړونو د اوړیدو او د نیکۍ نه پس د ګناه طرف ته د ګرځیدو نه پناه غواړئ! یقیناً چې د اللّٰه پاک د اِطاعت د سعادت نه پس د هغۀ د نافرمانۍ ذِلت ډیر خراب څیز دے او قَنَاعَت (یعنې څۀ چې میلاؤ شي پۀ هغې باندې صبر کول) د دولت میلاؤیدو نه پس د لالچ پۀ غریبۍ کښې اخته کیدل هم ډیر بد دي- (لطائف المعارف، ص 257 ملتقطاً)

## ځوانانو او بوډاګانو ته نصیحت

اے ځوانانو! که تاسو په ګناهونو پرېښودو باندې صبر اوکړو نو د نفس د خواهش د خوند د پرېښودو په بدل کښې به د اِيمان حَلاوَت (یعني خوږ والے) ستاسو په زړونو کښې کېښودلے شي، ځکه چې چا یو څیز د الله پاک د پاره پرېښودو نو هغهٔ ته د هغې نه بهتر څیز عطا کولے شي- دا خطاب خو ځوانانو ته دے- پاتې شو بوډا اِنسان، نو هغه که چرې د رَمَضَانُ المُبَارَک د تشریف وړلو نه پس په ګناه عادت شي نو دا نوره هم زیاته بده او خرابه خبره ده ځکه چې ځوان ته خو د خپل عمر په اخره کښې د توبې طرف ته د تللو څهٔ نا څهٔ اُمید وي حالانکې د توبې په طمع باندې ګناه کول هم سخته خطرناکه خبره ده ځکه چې مرګ کله زر او کله ناڅاپه هم راځي- د بوډا اِنسان سورلۍ خو د اُمیدونو د سمندر غاړې ته رسیدلې وي (یعني بوډا اِنسان خو مرګ ته بالکل نزدې شوے وي او د هغهٔ طرف ته بیا ځواني هم نهٔ راواپس کیږي) نو بیا هغه په کوم اُمید باندې دے؟

(لطائف المعارف، ص257 ملتقطاً)

ہو گیا تجھ سے خدا ناراض اگر
قبر سُن لے آگ سے جائیگی بھر

عمر میں چھوٹی ہے گر کوئی نماز
جلد ادا کرلے تُو آ غفلت سے باز

چھوڑ دے داڑھی منڈانا ہے حرام
ایک مٹھی سے گھٹانا ہے حرام

*/ذ ژ ښوب کر ذِکرِ خدا و مصطفٰے
دل مدینہ یاد سے اُن کی بَنا

کر عطا یارب غمِ شاہِ اُمم
بھول جائیں رنج و غم دنیا کے ہم

اے مری بہنو! سدا پردہ کرو
تم گلی کوچوں میں مَت پھرتی رہو
یاالٰہی نیک کر عطار کو
بخش دے تُو بخش دے بدکار کو

(وسائلِ بخشش، ص713، 714)

## خراب خلق

د حضرت سیدنا بِشر حافِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې عرض اوکړے شو: يو داسې قام دےچې صرف په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د الله پاک عبادت کوي او د الله پاک د رضا موندلو کوشش کوي (او د رمضان المُبارک نه علاوه داسې نۀ کوي)- حضرت بِشر حافِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اِرشاد وفرمائيلو: هٔغه قام خو ډير خراب دے کوم چې دا ګڼي چې د الله پاک حق صرف په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې دے، بے شکه نيک اِنسان خو هٔغه دے کوم چې ټول کال د الله پاک عبادت کوي او د هغۀ د رضا د حاصلولو په کوشش کښې لګيا وي- (لطائف المعارف، ص255)

## يوه اهمه مسئله

په "بهارِ شريعت" کښې دي: که يو کَس صرف په رمضان کښې نـمونځ کوي او وروستو يــې نۀ کوي او دا وائي چې دا ډير دي يا کوم چې مې کړي دي دا ډير دي ولې چې په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې يو نـمونځ د 70

نـمونځونو برابر دے نو داسې وئیل کُفر دے ځکه چې د دې نه د نـمونځ د فرضیت اِنـکار معلومیږي۔

(بهارِ شریعت، 464/2، حصه:9)

## رَبّانِي جوړ شه شَعبانِي مهٔ جوړیږه!

چا د حضرت شیخ ابو بکـر شِبلي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه پوښتنه اوکړه چې رَجَب افضل دے او که شَعبان؟ شیخ ابو بکـر شِبلي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هُغه کَس ته وفرمائیل: تهٔ رَبّانِي جوړ شه شَعبانِي مهٔ جوړیږه! (یعني خپل عبادت د یوې میاشت سره مهٔ خاص کوه بلکې هره ورځ د خپل رَبّ پهٔ عبادت او فرمانبرداری کښې مصروف اوسیږه۔)

(لطائف المعارف، ص255)

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عبادت پهٔ توفیق میلاؤیدو باندې د شُکر طریقه

بعضې بزرګانِ دِین رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم ته چې به کله الله پاک د شپې د عبادت توفیق عطا کړو نو هغوئي به د هُغه نعمت پهٔ شُکر کښې د ورځې روژه ونیوله د پاره د دې چې پهٔ شپه کښې د کړي عبادت شُکر ادا شي۔

(لطائف المعارف، ص254)

یاد ساتئ چې هُغه نیک اعمال د کومو په وجه چې به اِنسان په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د الله پاک قُرب (یعنې نزدې والے) حاصلولو، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د تیریدو نه پس د هُغه نیک کارونو د کولو وخت نۀ ختمیږي بلکې د څو پورې چې ژوندے وي د هغې پورې د هُغه نیک کارونو د کولو وخت د هغه د پاره باقي (پاتې) وي- (لطائف المعارف، ص255)

## په قیامت کښې به ارمان کوي

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د الله پاک سره محبت کوونکے د نفلونو په ذریعه د خپل مالِک او مولیٰ د قُرب (یعنې نزدې والي) په موندلو نۀ ستړے کیږي، د کوم اِنسان وختونه چې د رَبِّ کائنات د اطاعت او فرمانبردارۍ نه خالي وي نو بے شکه هغه نقصان اوکړو او د چا یوه ورځ چې د الله کریم د یاد نه په غفلت کښې تیره شوه نو په قیامت کښې به هُغه ورځ د هغۀ د ارمان سبب وي- هیٔ افسوس په هغه باندې چا چې د الله پاک د فرمانبردارۍ نه بغیر ډیر وخت ضائع کړو، هیٔ افسوس! په هُغه وخت باندې کوم چې هُغه ګس د الله کریم د پاره د کیدونکو نیکو کارونو نه بغیر تیر کړو-

(لطائف المعارف، ص256 ملخصاً)

زمونږه د دِین بزرګانو به د رَمَضَانُ المُبَارَک عبادتونو له ډیر اهمیت ورکولو او دا به یـې د خپلې بخښنې ذریعه ګڼله، نو

## د 80 رَمَضَانونو روژې

عظیم تابِعي بُزرګ حضرت سَیِّدُنا عَطا بن سائب رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: مونږ د حضرت سَیِّدُنا ابو عبدُ الرحمان سُلَمِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د وفات شریف په وخت د هغوئي خوا له لاړو نو هغوئي وفرمائیل: یقیناً چې ما په خپلِ رَبِّ کریم پورې اُمید تړلے دے، بے شکه ما د هغهٔ د رضا د پاره د 80 رَمَضَانونو روژې ونیولې- (حلیة الاولیاء، 4/213، رقم:5288) غور اوکړئ چې په اخري وخت کښې دې بزرګ د الله پاک رحمت یادولو او هسې هم په حدیثِ قُدسي کښې الله پاک فرمائي: " اَنَاعِنۡدَ ظَنِّ عَبۡدِیۡ بِیۡ " یعنې زهٔ د خپل بنده ګمان ته نزدې یم- (مسند احمد، 5/421، حدیث:16016) خاص طور په اخري وخت کښې خو د الله پاک نه ښه اُمید ساتل پکار دي- د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لیکلي دي چې که اِنسان د معافۍ اُمید لري او مړ شي نو اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! د هغهٔ به معافي نصیب کیږي- (مراٰۃ المناجیح، 3/59)

الله پاک دې مونږ ته هم د دې خبرې توفیق راعطا کړي چې زمونږ هم دا ښه ګُمان نصیب شي- خو نن سبا څینې نادانه دا وائي چې مونږ ګنهګاران

یو، دي وجې نه مونږ خو به دوزخ ته ځو، د داسې خلقو د پاره پوره پوره خطره ده چې د هغوئي خبره پوره شي، لهٰذا هیڅکله هم داسې نۀ دي وئیل پکار، مَعَاذَالله! که هر څومره ګناهونه مو هم کړي وي اګرچه ګناهونه نۀ دي کول پکار خو که چرې شوي وي نو بیا هم د الله پاک د رحمت نه نظر نۀ دي اړول پکار او چرې هم دا نۀ دي وئیل پکار چې ما ته خو به بس خامخا سزا میلاؤیږي، بلکې د الله پاک د رحمت نه ښۀ اُمید ساتل او توبه کول پکار دي، او قصداً عمداً خو ګناه کول غټه خبره ده بلکې ګناه ته نزدې کیدل هم نۀ دي پکار-

## ښه ښه نیتونه اوکړئ

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نیت اوکړئ چې د نن نه پس به زمونږ نه یو نـمونځ هم نۀ قضا کیږي، د الله پاک د نافرمانۍ والا کارونو نه به ځان ساتو، فلمونه ډرامې به نۀ ګورو، سندرې سازونه به نۀ اورو،ږیرې به نۀ خریو او د یو موټې نه به یـې هم نۀ کموو، د عاشقانِ رسول سره به پۀ قافلو کښې هره میاشت د دریو ورځو سفر کوو، د نیک اعمال رسالې پۀ ذریعه به روزانه د خپلو اعمالو جائزه اخلو او بیا به یـې د هرې انګریزۍ میاشتې پۀ وړومبۍ نیټه د خپل ذِمه دار سره جمع کوو- اِسلامي خوئیندې دې

هم نیت اوکړي چې همیشه به اِسلامي پرده کوي، خپلې د ځان نه جوړې کړے شوې مجبورۍ به نهٔ بیانوي چې " زمونږ پهٔ کورنۍ کښې خو څوک پرده نهٔ کوي، زمونږ کره خو داسې سختي ده، فلانکۍ مجبوري ده وغیره"۔

**اے اِسلامي خوئیندو!** د پردې نه د بچ کیدو د پاره چې نن سبا کومې مجبورۍ بیانولے شي هغه به پهٔ اخرت کښې پهٔ کار نهٔ راځي او نهٔ به مو د الله پاک د عذاب نه بچ کړے شي، اصلي مجبوري هٰغه ده کومه چې پهٔ اخرت کښې د الله پاک د عذاب نه بچ کړي او الله دې اوکړي چې د داسې مجبورۍ سره تاسو هېڅ مخ نهٔ شئ او تاسو د زړهٔ پهٔ خوشحالۍ د الله پاک او د هغهٔ د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ فرمانبردارۍ کولو ټول حکمونه پوره کړئ۔ یاد ساتئ چې پرده فرض ده، د دې د حکمونو د معلوماتو د پاره د مکتبة المدینه د 409 صفحو کتاب " پردے کے بارے میں سوال جواب " ضرور ولولئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

د داروانې هفتې رساله




فیضانِ مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچۍ
+92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net